# دميني معراج

د ګل په شا ن دی سري شونډی ښکاريد له ليلي
وږومي د زلفو دی نسيم را چلوله ليلي
سره اننګي دی په سپين مخ رنګ د منی په شا ن
صد ف غا ښونه دی په خوله کي ځليد له ليلي
د کرشمو او د نا ز په سمند رکی لاهو
له تغافله دی هيڅ ما ته نه کتله ليلي
«مل» دی له نا زه پردی کړي وه له عقله ځني
ستا د سينی د پاس پاولي چي شرنګيد له ليلي

*** پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»

جرمنی 03-08-2016

# پاداش

پا داش ځما د ميني په جفا سره تعد يل شو
د ميني افسا ني مي درقيب په خوله تفصيل شو
آ شنا مي د رقيب په لمسون ما نه مرور شو
دهجر ترخي ورځی پرما بی ګناه تحميل شو
آرمان مي تر سر نشو په مينه کي ناکام شم
تومار د تهمتونو ځما په نوم سره تسجيل شو
د ميني لار د ک وی له اغزو ډاکتر «مله»
خوښی اوخوشحالي مي په غمو سره تبد يل شو

*** پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»

جرمنی28-06-2016